# ګډه اعلامیه

تنظیمونکي بنسټونه

د افغان ښځو لپاره اولسي محکمه

د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر ۱۱نېټه

د افغان ښځو لپاره د اولسي محکمې نننۍ پرېکړه، د هغو ادعاوو تاريخي او پرېکنده تاييد دی چې افغان ښځې پرې له څلورو کلونو څخه زيات وخت راهيسې ټينګار کوي: د طالبانو تر واکمنۍ لاندې له ټولنيز ژوند څخه د ښځو سيستماتيک ايستل يوازې توپيري چلند نه دی، بلکې د نړيوالو قوانينو له مخې جرم دی.

محکمې پرېکړه کړې چې طالبان او په افغانستان کې د دوی حکومتي چارواکي د بشريت پر وړاندې د جرمونو او د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالی مسؤل دي. دا د مليونونو افغان ميرمنو او انجونو په اړه ژوندي واقعيت ته چې د زده کړې، کار، روغتيايي پاملرنې، د تګ راتګ آزادۍ او ټولنيز ګډون له حق څخه محرومې دي، اخلاقي او سياسي وزن ورکوي.

محکمه د ژوند په هره برخه کې له عدالت څخه د افغان ميرمنو د محروميت له امله جوړه شوه. د نن ورځې پرېکړه څرګندوي چې د ښځو کړاوونه د زغملو ندي، دوی هېرې شوې ندي او نه هم د نړيوالو قوانينو له مرکزيت څخه بهر دي. نړۍ اوس د هغه څه رسمي قانوني ثبوت لري چې په افغانستان کې پېښيږي. نور د شک، ابهام يا د شواهدو د نشتوالي ادعا سمه نده. هغه څه چې ښايي ترسره شي، د عمل لپاره سياسي اراده ده.

دا محکمه د شاهدانو له زړورتيا پرته ممکنه نه وه. موږ هغو افغان ميرمنو ته درناوی کوو چې د شته خطرونو سره سره، د افغانستان دننه او په جلاوطنۍ کې د شاهدۍ لپاره حاضرې شوې وې. د دوی شهادت، د دوی کيسې، او د دوی خبرو دا حکم جوړ کړ. د دوی غږونه اوس د نړيوالو حقوقو برخه جوړوي او له مينځه وړل يې شوني ندي.

دا حکم نړيوالې ټولنې ته هم يو واضح پيغام ليږي. چوپتيا، د عمل نشتون، ځنډ، عادي کول، يا غير مشروطه ښکيلتيا نوره د دفاع وړ ندي. هغه ښکيلتيا چې د ښځو حقونه له پامه غورځوي، اوس کولی شي قانوني، سياسي او اخلاقي پايلې ولري.

نن ورځ، موږ، تنظيم کونکي بنسټونه، په حکومتونو، نړيوالو ادارو او ملګرو ملتونو غږ کوو چې پرته له ځنډه عمل وکړي ترڅو:

- طالبانو ته مستقيم، واضح، متحد او پياوړی پيغام واستوو چې د دوی ظالمانه پاليسۍ د منلو وړ ندي او بايد بيرته واخيستل شي. د نړيوال صلاحيت له لارې د جرمونو د پلټنې او محاکمې لړۍ پيل کړئ.
- له خطر سره مخ افغان ميرمنو لپاره د خونديتوب او پناه غوښتنې لارې پراخول.
- د ټولو هغو سياسي پروسو پای ته رسول چې ښځې له پامه غورځوي او د جنسيت پر بنسټ سيستماتيک ظلم عادي کوي.

- د حساب ورکولو د ټولو لارو چارو ملاتړ او د افغانستان لپاره د نوي میکانیزم او د جنسیتي توپیر د رسمي کولو د هڅو په شمول دې جدي اقدامات وشي.

دا محکمه هیڅکله د تیر په اړه نه وه. دا محکمه د راتلونکي په اړه ده. دا محکمه د دې په اړه ده چې ایا نړۍ به هغه سیستم ومني چې پکې ښځې د قانون له مخې له پامه غورځول کیږي، او که نه.

دا محکمه سرغړونو د مستند کولو څخه لوړه ده. دا محکمه د ژغورل شویو کسانو د خبرو کولو لپاره د انتخاب پایله وه، هغوي د هغو زیانونو یادونې وکړې چې دوی ورسره مخ شوي وي، او د هغه جوړښتونو ننګونه وه چې هڅه کوي دوی چوپ کړي.

افغان میرمنې وغږېدلې. قاضیان وغږېدل. قانون وغږید. اوس باید نړۍ ځواب ووایی.

په درنښت،

د افغانستان د بشري حقونو او ډیموکراسی بنسټ

رواداري

د بشري حقونو مدافعین پلس

د ښځو او پراختیا بنسټ